# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

د افغانستان دسولی بيارغونی اوکلتور دکميته

۲۲ مارچ ۲۰۱۲

## دکندهاردپنجوايی ولسوالی دشهيدانو په اړه

## دالمان دبرلين په ښار کی د افغانستان دسولی بيارغونی اوکلتور دکميتی غبرګون

دځولسيزوراهسی نړۍ او خلک يې ګوری چې پر دې بی وزله ولس څه تيريږی ؟ درې نيمی لسيزی کيږی چې دلته هره ورځ په لسګونو اوسل ګونو بيګناه ملکی کسان وژل کيږی پنځه ديرش کاله کيږی چې زموږ په ګران افغانستان کی دوينو ويالي موج وهی ، ځوان سرونه له تنه جلا کيږی . ميندی بوری کيږی ، ځوانی ناوی کونډی کيږی، واړه ماشومان يتيمان کيږی ، دځوانو افغانانو سرونه رغړی ، کورنی او ژوند له منځه ځی .. هر څه او هر څه له منځه ځی ، پرافغان ولس يوداسی بلا را پريوتی ده چې اوس يې په هيڅ سر اوبر نه پوهيږی . اوس دافغانستان هيڅ پوهيالی او سياست پوه نه پرهيږی چې له دې بلا څنګه ځان وژغوری ؟

د کب دمياشتی په ۲۲تمه مو بيا داغمجنه چيغه تر غوږ شو ه چې ظالمو او خدای ناترسو امريکايانو بيا بيوزله اوبيګناه ملکی افغانان چې دمرګ څخه يې دځان دژغورلو توان نه درلود په ډير وحشيانه او بی رحمانه ډول په شهادت ورسول . دی خبر ټوله نړۍ حيرانه کړه ،دنړۍ سوله دوستو خلګو په يوه خوله دامريکايانو دا وحشيانه عمل وغانده او شک يې څرګند کړ چې دا عمل ديوه سړی نه بلکه ديولوی ګروپ کاردی چې ديومنظم او ترتيب سوی پلان له مخی تر سره شويدی .

دپيښی په هکله ځايی خلګو شاهدی ور کړه چې کورونو ته يې يوتن نه بلکه منظمی عسکری ډلګی ورغلی وی ، هغوی ولسمشر کرزی ته څرګندونی کولی چې څنګه يې بيګناه ماشومان او سياه سری په نيمه شپه کی دامريکا يی قصابانو په ناولو لاسنونو ټوکر ټوکر شول. دولسمشرکرزی دور استول شوی پلاوی مشر ډګر جنرال شير محمد خان هم دځايی خلګو ويناوی چې دولسمشر په مخ کی يې کولی تاييد کړه.

د افغانستان دسولی بيارغونی اوکلتور دکميتی مشرتابه هيئت ددی کميتی دتوغړو په استازيتوب داغجنه او نه هيريدونکی پيښه په کلکو ټکوسره غندی او دافغانستان او امريکی ددولتونو څخه غواړی چې عاملين يی محکمه او سخترينه سزا ورکړل شی.

په درناوی

د افغانستان دسولی بيارغونی اوکلتور دکميته